# د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

**تحلیل CSRS | شماره: ۳۴۷**

۰۳ ثور ۱۳۹۹ هـ ش / 22/04/2020 م


**ویبسایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.af

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com


**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.**


لومړی تحلیل

دویم تحلیل

# د تورخم او چمن لارو پرانیسته؛ پر افغان مارکیټ یې اغېزې



افغانستان چې له یوې مخې په وچه کې راګیر، او له بلې خوا زیاتره تکیه یې په وارداتي توکو ده، پر همدې بنسټ خپله سوداګریزه راکړه ورکړه له ګاونډیو هېوادونو او په ځانګړې توګه له پاکستان سره د ځمکې له لارې سرته رسوي.

که څه هم افغانستان په وروستیو څو کلونو کې د هوائي دهلیزونو او په ځانګړې توګه د چابهار بندر له لارې یو څه پر دې توانېدلی ښکاري، ترڅو په وچه کې ګیر هېواد و نه اوسي او خپلې سوداګریزې راکړې ورکړې له یادو لارو څخه هم ترسره کړي.

مګر د کرونا وایروس چې د نړۍ اقتصاد یې مخ په ځوړتیا کړی، او نه یوازې د افغانستان په څېر وروسته پاتې هېوادونه، بلکې د نړۍ په کچه پرمختللي هېوادونه یې د سختو اقتصادي ستونزو او وېرې سره مخ کړي دي. د دې لپاره چې د یاد وایروس مخه ډب کړای شي، د نړۍ تقریباً ټولو هېوادونو یو بل سره تګ راتګ محدود کړی او یا یې په ټپه ودرولی دی. پر همدې بنسټ پاکستان او افغانستان هم د وایروس مخنیوي لپاره ورته ګامونه واخیستل، او دې کار په لومړي سر کې د افغانستان په بازار سخت فشار وارد کړ چې د لومړنیو توکو بیې ورسره آسمان ته وختلې. که څه هم

افغان حکومت یې د کنټرول هڅه وکړه خو بیا هم تر دې دمه د توکو بیو کې ښکاره لوړوالی ښکاري. د حمل په 20 نېټه د پاکستان حکومت اعلان وکړ چې افغانستان سره به دوه مهمې پولې د سوداګریزو راکړې ورکړې په موخه بیا پرانیزي. دا چې د تورخم او چمن لارو بیا پرانیسته به پر افغان مارکیټ څه اغېزې ولري؟ دلته پرې شننه شوې ده.

## د پولو تړل او پر افغان بازار یې اغېزې

افغان ولسمشر د کرونا وایروس سره د مبارزې په برخه کې د سارک هېوادونو په ویډیویي کنفرانس کې چې د مارچ په 13 نېټه ترسره شو، د سارک هېوادونو له استازو او مشرانو څخه غوښتنه وکړه، ترڅو د لومړنیو توکو په برخه کې د خپلو هېوادونو پولې یو د بل پر وړاندې پرانیستې وساتي.[1] چې د ولسمشر محمد اشرف غني له دې غوښتنې څخه د هند لومړي وزیر ښاغلي نریندرا مودي او د پاکستان د روغتیا وزیر ښاغلي ظفر مرزا دواړو هرکلی وکړ. مګر په لومړي سر کې کله چې پاکستان د کرونا وایروس مخنیوي په پار د مارچ په 3 او 16 نېټه په ترتیب سره د چمن او تورخم پولې له افغانستان سره وتړلې[2] په یو ځل په افغان بازار کې د احتکار په وجه، د لومړنیو توکو بیې هم ورسره په لویه کچه لوړې شوې.

د دې لپاره چې عام ولس د لومړنیو توکو د بیو زیاتوالي له نورې وېرې څخه وژغورل شي، افغان ولسمشر محمد اشرف غني د مارچ میاشتې په 17 نېټه ولس ته په خپل پیغام کې څرګنده کړه چې د دولت د ستراتیژیکو زېرمو څخه د 24 زره ټنه غنمو صادرولو امر یې ورکړی ترڅو اړمندو خلکو ته ورسول شي[3] او د دې ترڅنګ یې د افغانستان په شمالي بندرونو کې د ایسار شویو لومړنیو توکو بازار ته پرته له کومې جریمې په بېړنۍ توګه رسولو امر ورکړ، او هیله یې څرګنده کړه چې په نږدې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[1] https://www.india.com/news/india/saarc-video-conference-this-is-what-member-countries-said-about-tackling-coronavirus-3970972/
[2] https://www.geo.tv/latest/275184-coronavirus-pakistan-closes-afghan-border-crossing-at-chaman-for-one-week
[3] https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-51921975

راتلونکې به 75 زره ټنه غنم له هند څخه افغانستان ته هم راورسیږي. بلخوا د سوداګرۍ او صنایعو خونې هم په خپل وارسره د لومړنیو توکو د عادي واردېدو ډاډ ورکړ، او پر همدې ترتیب، عامو افغانانو سره تر یو بریده د توکو د قحطۍ وېره راکمه شوه.

د تېر کال جولای میاشت څخه د 2020 م جنورۍ میاشت پورې افغانستان ته د پاکستان د صادراتو کچه له 676.2 میلیون ډالرو څخه 633.1 میلیون ډالرو ته راښکته شوې چې شاوخوا 7 سلنه کموالی ښیي.[4] دغه کموالی دا په ډاګه کوي چې افغانستان په اقتصادي برخه کې د ګاونډي پاکستان په نسبت په نورو بدیلو لارو سوداګریزه راکړه ورکړه زیاته کړې ده. مګر په اوس کې د افغانستان لخوا د پاکستان څخه د لارو پرانیستلو غوښتنه دا هم په ډاګه کوي چې افغانستان د تېر په څېر دې ته لیواله دی، چې له نږدې ګاونډي پاکستان سره خپلې سوداګریزې راکړې ورکړې ته په عادي شکل دوام ورکړي او دا کار د دواړو هېوادونو په ګټه بولي. ځکه که له یوې خوا افغانستان ته د پاکستان له لارې واردات اقتصادي تامیږي، بلخوا پاکستان چې له تېرو څو کلونو راهیسې د سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دی، افغانستان په څېر نږدې او اقتصادي بازار ته د خپلو توکو صادرولو په واسطه کولی شي خپلې اقتصادي ستونزې تر یو بریده را کمې کړي. دا چې د کرونا ویروس په وجه نړیوال مارکیټ ټکنی شوی او د هېوادونو ترمینځ سوداګریزه راکړه ورکړه ټیټې کچې ته راغلې، د تورخم او چمن لارې د سوداګریزو توکو پرمخ پرانیستل به په افغانستان کې د ننه د نرخونو په کمېدو او بازار په ثبات کې مثبت رول ولوبوي. همدا راز، ددې لارو پرانیستل کولی شي د سولې پر پروسه او د دواړو ګاونډیو هېوادونو د سیاسي اړیکو په ښه کولو کې هم اغیزناک ثابت شي.

افغانستان او پاکستان په 1965 کال کې د (APTTA) یا د افغانستان پاکستان ترمنځ ترانزیټي سوداګریز تړون لاسلیک کړی وو کوم چې بیا ځلې په 2010 زکې نوی شو.[5] د یاد تړون له مخې افغان

---

[4] https://www.thenews.com.pk/print/632519-pak-afghan-trade-slips-to-720-4mln-in-july-january
[5] https://www.usip.org/publications/2015/08/future-afghanistan-pakistan-trade-relations

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

لاریو ته د پاکستان له لارې واګاه سرحد او په پایله کې هند ته د افغاني توکو لېږدولو او په بدل کې پاکستاني لاریو ته د افغانستان ټولو بازارونو ته د یاد هېواد توکو ته د لېږد لاره هوارو ي.

په 2014 ز کال کې ولسمشر محمد اشرف غني پاکستان ته په خپل لومړني سفر کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه تر 2017 ز کال پورې 5 بیلیون ډالرو ته د رسولو هیله څرګنده کړې وه[6]، خو د دواړو هیوادونو دسیاسي بې باوریو ډېرېدل او د پاکستان له لوري افغان سوادګرو په وړاندی خنډونه جوړول او بیا په په وار، وار افغانستان سره خپلې پولې تړل، افغان سوداګر له میلیونونو ډالرو زیان سره مخ کړل. ددې ګامونو اخیستو په پایله کې د افغان سوادګرو دلچسپي د پاکستان له لارې سوداګرۍ سره کمه او افغان حکومت د بدیلو لارو په لټه کې شو. همدا لامل وو چې افغانستان د چابهار بندر له لارې هند او ایران سره خپلې سوداګریزې بوختیاوې زیاتې کړې، او پاکستان د افغانستان ستر اقتصادي مارکیټ په لویه کچه له لاسه ورکړ.

**پایله**

د پاکستان له لوري افغانستان ته په هره اوونۍ کې د درې ورځو لپاره د افغان سوداګرو سوداګریزو توکو پر وړاندې د تورخم او چمن پولو پرانیستل کولی شي د دواړو هېوادونو په اقتصادي پرمختګ او خلکو ته په وزګار پیدا کولو کې مرستندویه واقع شي. مګر اړینه ده ترڅو دواړه هېوادونه چې له یوې خوا د سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دي او له بلې خوا د کرونا وایروس له امله یې کاروبارونه په ټپه ولاړ دي، چې اقتصادي پرمختګونه به یې نور هم له ګواښ سره مخ شي د یوې اوږد مهالې او اغېزمنې حل لارې په توګه آسانتیاوې رامنځ ته کړي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو راکړو ورکړو ترسره کول تر ډېره د پولو په دواړو خواوو کې او په ځانګړې توګه پاکستان لوري ته د سختو خنډونو، او د سوداګرو څخه د زیاتې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

6 https://tribune.com.pk/story/996710/afghanistan-pakistan-open-key-economic-trade-talks/

مالیې اخیستلو په لړ کې د ځنډ او خنډ ښکار کېږي. همدا لامل دی چې د وروستیو شمېرو له مخې افغانستان ته پاکستاني صادرات د روان کال په لومړی میاشت کې 89.9 میلیون ډالرو وو، په داسې حال کې چې د تېر کال په ورته موده کې پاکستاني صادرات 141.5 میلیون ډالرو ته رسېدل.[7]

د افغان او پاکستاني سوداګرو پر وړاندې د تورخم او چمن لارو پرانیستل کولی شي په افغانستان کې د لومړنیو توکو تقاضا او بیې تر یوې اندازې رانښکته کړي. د دې ترڅنګ د پاکستان او افغانستان ترمنځ ښه سوداګریزه راکړه ورکړه کولی شي د دواړو هېوادو ترمنځ د باور فضاء په رامنځ ته کېدو او د منځنۍ آسیا او سویلي آسیا په نښلولو کې اغېزمنه واقع شي، کوم چې د افغان سولې په برخه کې د سیمه ییزو هېوادونو لیوالتیا نوره هم زیاتولی شي.

د دې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي راکړه ورکړه پرمختګ ومومي، د دواړو هېوادونو سوداګرو پر وړاندې شته خنډونه لکه د ویزو په برخه کې اسانتیاوې رامنځ ته کول، د مالیې او تعرفې کمول، په ناڅاپي توګه د پولو نه تړل هغه څه دي چې کولی شي په ځانګړې توګه په دغسې یو سخت حالت کې د دواړو هېوادونو بې وزله ولسونو ته کاري فرصتونو او بوختیاوو ډاډ ترڅنګ د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي او هراړخیزه اړیکو نږدې کېدو لامل شي.

او افغان دولت باید یوازې د سوداګریزو توکو پر وړاندې د لارو په پرانیستلو بسنه و نه کوي، بلکې د نړیوالې ټولنې او بشري سازمانونو له لارې هڅه وکوي ترڅو په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي مخه د ملګرو ملتونو سرمنشي ښاغلي انټونیو ګوټرېش د غوښتنې سره سم ودروي.[8] او همدارنګه اړینه ده ترڅو په دې سخت وخت کې افغان ولس سره د نړیوالو مرستندویانو او بشري مرستو ترسره کوونکو پاملرنه د بل هر وخت په پرتله ډېره راواړوي.

---

[7] https://www.thenews.com.pk/print/632519-pak-afghan-trade-slips-to-720-4mln-in-july-january
[8] https://www.foxnews.com/world/un-chief-pushes-coronavirus-cease-fire

# مصروفیت های سالم کودکان در ایام قرنطینه



بیش از صد روز می شود که جهان با بحران کرونا مواجه است. این ویروس در نخست از ووهان چین سر برآورد و به گوشه گوشه ی دنیا رسید. در حال نوشتن این سطور مرز کسانی که مصاب به ویروس کرونا شده اند از دو میلیون نفر گذشته است و با گذشت هر ساعت همچنان به تعداد آن افزوده می شود. شمار قربانیان این بحران بیشتر از یک صد و هفتاد و هفت هزار در جهان بوده که از نظر مصابیت و مرگ و میر امریکا مقام نخست را دارد.

به دلیل اینکه مرض کرونا تداوی ندارد تمام کشورها راهکارهای وقایه وی رای برای مبارزه با این ویروس در پیش گرفته اند، که یکی از آن قرنطینه کردن باشنده گان شهرها و محلات هستند که مرض کرونا در آن شیوع پیدا کرده است. به دنبال انتشار ویروس کرونا در کشور، دولت افغانستان نیز یکی پی دیگر شماری از شهرهای کشور را قرنطینه نمود که از آن جمله شهر کابل با نفوس تخمینی شش میلیونی نیز در حالت قرنطینه قرار دارد. در حالیکه مراکز آموزشی قبل از قرنطینه کردن شهرها، بسته شده بود.

حال که به دلیل جلوگیری از انتشار بیشتر ویروس کرونا میلیون ها کودک از رفتن به مکتب بازمانده اند، والدین باید چه کارهای را به انجام برسانند تا از یک طرف اولادهای شان را از آسیب های ناشی از خانه نشینی در امان نگهدارند و از

Center for Strategic and Regional Studies

جانب دیگر در روزهای قرنطینه از تعلیم و تربیه آنان نیز غافل نمانند. در این تحلیل تلاش صورت گرفته تا راهکارهای تفریحی، تعلیمی و صحی مناسبی با استفاده از دیدگاه های متخصصان امور ارائه گردد:

## ایجاد فضای شاد در خانواده

شکی وجود ندارد که بحران کرونا در جهان به ویژه در افغانستان مردم را تحت فشار جدی اقتصادی و روانی قرار داده است. چون تعداد زیادی از مردم کشور ما روزانه کار می کنند و شبانه یک لقمه نان بدست می آورند. این باید طبیعی باشد که در چنین جو اختناق کرونایی و فشار اقتصادی حوصله ها کمتر شود و میزان تحمل انسان ها پایان بیاید .

به این خاطر، تلاش باید صورت گیرد تا یک فضای شاد در خانه برای تمام اعضای خانواده به ویژه اطفال ایجاد گردد. زیرا بدون ایجاد چنین فضایی تحمل ماندن در خانه برای اطفال و کودکان کمتر می شود که این می تواند آسیب های جدی جسمی و روحی را برای شان در پی داشته باشد. این بحران می گزرد(شاید خیلی زود و شاید هم دیرتر)اما، آسیب عدم توجه به کودکان در جریان قرنطینه می تواند سال ها در روح و جسم کودکان باقی مانده و ایشان را بیازارد. ایجاد فضای شاد به این مفهوم است که نه تنها اطفال در خانه زیر فشار و تهدید قرار نگیرند بل، از بودن در خانه در کنار اعضای خانواده های شان لذت ببرند.

## مصروفیت های سالم

از اینکه در ایام قرنطینه کودکان با یک حالت جدید مواجه شده اند، حتمی است که بخاطر سلامت روحی و جسمی شان به مسایل تفریحی شان در کنار مسایل تعلیمی و تربیتی، توجه کافی صورت گیرد. مصروفیت های سالم درون خانگی یکی از ابزار مهم و کلیدی برای شاد نگهداشتن کودکان در دوران قرنطینه می باشد، که در این جا به چند نمونه زیر می شود اشاره کرد:

- با کودکان در خانه ورزش کنید، البته ورزشی که مناسب سن آنها بوده و از نظر جسمانی برای شان آسیب نرساند. با ایشان مسابقه ورزشی را برگزار کرده و قصدا مسابقه را به نفع شان به اتمام برسانید، در این صورت کودکان از یک طرف از مسابقه کردن لذت می برند و از جانب دیگر احساس برنده شدن در مسابقه برای شان حس شادی و بزرگی می دهد.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

- مشترکا با کودکان برنامه های مفید و تربیتی کانال های تلویزیونی را تماشا کنید. از اینکه مشاهده تلویزیون تاثیرات مثبت و منفی زیادی را می تواند برای اطفال داشته باشد، ایام قرنطینه فرصت خوبی است که به اطفال عادت داده شوند چه چیزی را تماشا نمایند و چه چیزی را نبینند. همچنان لازم است که بطور مکرر توجه کودکان به جنبه های مثبت وتربیتی برنامه ها جلب شود.
- در کارهای خانه کودکان را سهم داده شود. چون سهم گیری کودکان در کارهای خانه از یک طرف برای شان حس مسئولیت پذیری ایجاد می کند و از جانب دیگر در مورد کارهای خانه نیز بیشتر ورزیده می شوند.
- با ایشان فکاهی و قصه گفته شده و چیستان های با معنا مطرح شود. این کار از طرفی سبب وقت پری کودکان می شود و از جانب دیگر می تواند چیزهای زیادی به طور غیر مستقیم برای شان بیاموزند.
- کارهایی برای کودکان طراحی شود که هم جنبه تفریحی داشته باشد و هم جنبه آموزشی، چون این کار نه تنها اینکه سبب خسته گی و ملالت کودکان نمی شود بل، برای باروری و شگوفایی استعداد های شان می تواند مفید واقع شود.

## ترتیب تقسیم اوقات آموزشی

در این شکی وجود ندارد که بسیاری از کودکان در دوران مکتب می خواهند زودتر به یک صنف بالاتر ارتقا نمایند. بحران کرونا و ایجاد قرنطینه شاید این تشویش را در کودکان بوجود آورده باشد که از دروس شان به عقب افتیده اند. نخستین وظیفه والدین این است که این تشویش و استرس را از ذهن کودکان شان دور نمایند. بعد تقسیم اوقات تعلیمی و تربیتی را در مطابقت با سن و سویه کوکان ترتیب داده و آن را با حوصله مندی تمام طوری عملی نماید که سبب خسته گی کودکان نشود. موارد مهمی که شامل تقسیم اوقات ایام قرنطینه ی کودکان ما گردند؛ اینها اند:

- به آموزش کتب درسی اساسی مکاتب مانند زبان، ریاضیات، وفریک و کیمیا در صنوف بالا تر اولویت داده شود. که در این صورت هم استرس شاگردان ناشی از عقب افتادن درس های مکتب از بین می رود و هم آموزش مضامین مذکور در دوران مکتب مشکل زیاد شان را حل خواهد ساخت.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

- بر علاوه این دروس،کتاب های متبدی اسلامی برای شاگردان تدریس شود، از جمله سیرت النبی، قصص الأنبیا، مبادی اسلام و کتاب های دیگری. منظور این است که از میان کتاب های اسلامی یک کتاب انتخاب شده و برای کودکان به زبان ساده تشریح گردد، از کتب تعلیمات اسلامی مکاتب نیز درین عرصه می توان استمداد جست.
- تشویق کودکان به مطالعه ی آزاد، یکی از چیز هایی است که در ایام قرنطینه حتماً باید به آن توجه صورت گیرد. از اینکه کودکان به کتاب های داستانی خیلی علاقه نشان می دهند می شود می توان از کتاب های داستانی ساده و ابیات کودک سود فراوان برد .
- فرصت اجتماعات خانوادگی مانند وقت صرف طعام باید بخاطر ایجاد فضای صمیمی و دوستانه در بین اعضای فامیل مورد استفاده قرار گیرد. ادای نماز جماعت با کودکان و پس از ادای نماز؛ چند جمله ی مفید گفتن برای شان، می تواند فوائد تربیتی خوبی در قبال داشته باشد.
- براه انداختن مسابقات معلوماتی و ذهنی با سویه ی پایین می تواند به عنوان مورد تعلیمی- تربیتی دلچسپی بخاطر مصروفیت کودکان در ایام قرنطینه به کار گرفته شود .

## آموزش بهداشتی

آموزش بهداشتی باید بخشی از مصروفیت های کودکان در ایام قرنطینه باشد. درین ایام کودکان را باید در مورد مسایل بهداشتی طوری آموزش دهیم که سالیان زیادی به یاد شان مانده و به آن توجه نشان دهند. مفاد کوتاه مدت این کار آنست که ما فامیل ها را در مبارزه با ویرس کرونا و سایر امراض ساری کمک می کند و در دراز مدت هم کشور را در راستای داشتن یک جامعه سالم و صحت مند یاری می رساند. رعایت مسائل بهداشتی در سطح خانواده ها؛ میتواند مصارف درمانی را در مجموع پایین آورده و فشار آن را روی بودجه ی ملی کم سازد.

در این روزها موضوع انتشار ویروس کرونا در سرخط اخبار جهان قرار دارد. مبالغه در اخبار و تحلیل های مربوط به کرونا حتی هراس را در دل بزرگ سالان می اندازد چه رسد به کودکان. دور نگهداشتن کودکان از این نوع اخبار وتحلیل ها، امری حیاتی می باشد. کودکان ما باید آگاهی هایی در رابطه به مرض کرونا و عوامل انتشار آن داشته

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

باشند، اما مبالغه در اخبار و تحلیل هایی مربوط به این مرض می تواند اطفال را از لحاظ روحی صدمه برساند، چون روح و روان کودکان در برابر تحمل اخبار بد توانایی مقاومت زیادی را ندارد.

شستن بار، بار دست ها، اجتناب از دست دادن و تماس نزدیک با دیگران، استفاده از نقاب و دستکش در صورت رفتن به بیرون از خانه، چیز هایی اند که بار، بار و به تکرار باید به اطفال و نوجوانان تذکر داده شود تا به آن پابندی جدی نمایند.

## نتیجه

از اینکه میلیون تن از کودکان به دلیل انتشار ویروس کرونا در قرنطینه بسر می برند و از رفتن آموزشگاه ها و مکاتب باز مانده اند، لازم است که والدین نسبت کودکان شان در ابعاد تفریحی، تعلیمی، تربیتی و صحی توجه بیشتر به خرچ دهند. چون عدم توجه درست به کودکان در زمان قرنطینه باعث می شود که اوقات اطفال ضایع گردیده و از منظر روحی و جسمی آسیب ببنند. بعضی ازین آسیب ها شاید سالیان زیادی دوام کند.

ایجاد فضای شاد در خانه، ترتیب کردن تقسیم اوقات تعلیمی و تربیتی، مصروف سازی کودکان به فعالیت های مثبت و آموزش های صحی از مواردی اند که والدین محترم در ایام قرنطینه باید به آنها توجه نمایند.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)